## پښتانه څوک دي

پښتانه خپل تاريخ پخپله نه دی ليکلی او د خپلو مشهورو خلکو او کارونو ساتلو ته يې پام نه دی کړی. د همدې نه پاملرنې له امله د پښتنو تاريخ د نورو خلکو په کتابونو کې ليکل شوی دی. خو د پرديو ليکلی تاريخ اکثر د دوی د فکر او اړتيا سره برابر وي، نو زموږ اصلي تاريخ بدل شوی او ناسم ښکاري. همدې ته اشاره شوې چې که پښتانه خپل تاريخ پخپله ونه ليکي، د نورو په وينا کې به تل پردی او نيمګړی ښکاري.

## دوه نظريې دي

## پښتانه بني اسرايل (سامي نظريه)

دا خبره سامي نظريه بلل کېږي. د دې خبرې له مخې پښتانه د سامي نسل خلک ګڼل کېږي او ويل کېږي چې د يهودو او بني اسرايلو سره يې تړاو لري

**خوشحال بابا شعر**

په بنياست باندی يه حتمه دا وينا ده

چې په اصل د يعقوب قوم او تبار دي

خوشحال بابا په خپل شعر کې يوه مشهوره عقيده بيانوي چې پښتانه د بني اسرايلو اولاد دي. د دې نظريې له مخې پښتانه د حضرت يعقوب (ع) د نسل او قوم برخه ګڼل کېږي، نو ځکه دا خبره د سامي نظريې په نوم يادېږي. په ساده ټکو کې مطلب دا دی چې ځينې خلک پښتانه د يهودو او عبرانيانو سره د نسل له مخې تړلي بولي.

## نعمت الله هاروي

نعمت الله هاروي په خپل کتاب مخزن افغاني کې ليکي چې پښتانه د بني اسرايلو اولاد دي او د هغوی پلار حضرت طالوت ګڼل کېږي. د هغه په وينا د پښتنو ځينې مشران د حضرت داود عليه السلام په پوځ کې سپاهيان وو، او د پښتنو د قبايلو نومونه د هماغه وخت د زامنو له نومونو سره تړاو لري. د هغه په روايت کې د پښتنو قبيلې لکه ارمېه او برخېه د همدې نسل يوه برخه ښودل شوې ده.

په روايتونو کې ويل کېږي چې د ارميه زوی نوم افغانه او د برخي زوی نوم اصـف و. افغان د حضرت سليمان عليه السلام په پوځ کې شامل شوی و، خو وروسته چې بخت نصر د يروشلم پاچا شو، دوی ته يې اجازه ورنه کړه چې هلته پاتې شي. له همدې امله افغان د خپلو زامنو او خلکو سره يو ځای له هغه ځايه کډه شول او افغانستان ته راغلل.

## پښتنو کېښنی قيس پيدا شو

پښتنو له قبيلې يو مشهور مشر په نوم د قيس پيدا شو، چې د غر غوشته، خړين او بټن سيمو د پښتنو مشري يې کوله. کله چې د مکې فتحه وشوه نو هغه په دې مهمه جګړه کې ګډون وکړ. د ده د مېړانې او اخلاص له امله حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه خپله لور سحراء ورسره په نکاح ورکړه. وروسته نبي کريم ﷺ هغه ته د اسلام منلو په بدل کې د "عبدالرشيد" لقب ورکړ.

## کوم کسان دهغه نظريه مني

دغه نظره (د قيس عبدالرشيد او دهغه د نسل) ډېر مشهور ليکوالانو منلې دی. د هغو کسانو په لړ کې اشرف خان هجري، افضل خان خټک چې د "تاريخ مرصح" ليکوال دی، حافظ رحمت خان د "خلاصت الانساب" ليکوال، زراد خان د "صولت افغاني" ليکوال، سيد عبدالجبار چې "بني اسرايل" يې ليکلي، او قاضي عطا الله چې "د پښتنو تاريخ" يې ليکلی دی، شامل دي. دا ټول ليکوالان د همدې نظر ملاتړ کوي